مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۰۹/۲۴

# د استخباراتي مدرسو ماشين

د سړې جګړې پر مهال يې د يوه پراخ ستراتيژيک پلان له مخې په پاکيستان کې د استخباراتي مدرسو ماشين چالان کړ. دا کيسه د محمد داودخان له واکمنۍ راپيل شوه، شوروي راخوځېدلي وه او هغه مهال سور بيړ (خرس) د افغانانو په عقيدوي ولولو ښه‌ترا راپرځېدلای شو، نه په ملي روحيه او ملتپال تفکر. ځکه ملتپال شعور د خپلواکي غوښتنې نهضت نه پرېښود، چې د انګريز او پاکيستان په لمن کې ورپرېوځي. دوښمن ملتپالنه وځپله او پرځای يې مذهبي بنسټپالنه پياوړې کړه.

د شوروي تر راپرځېدو روسته د سړې جګړې پاتې‌شوني افراطي - راديکال وسلوال په خپلو کې سره ښکېل کړای شول او ورو ورو داسې فکر رامنځته شو، چې د نويو سيالانو په وړاندې نه هغه مدرسې او افراطي ډلې نورې پکارېږي او نه هم ولسونه هغومره تياره او روسته پاتې دي، چې نور دې د زبرځواکونو د ګټو لپاره د عقيدې په نوم وجنګول شي. پاکيستان او مدرسې دواړه د پولې ټک ته کېنول شول، خبره تر دې ورسېده، چې تر ټولو د لويې استخباراتي مدرسې مشر وويل، چې د مدرسې ځوکيداري يې - نعوذبالله - حضرت پيامبر کوي.

ـ اصلي پوښتنه دا ده، چې دا پنځوس کاله يې ځوکيداري چا کوله؟

ـ هغه د سيلاو غوندې پيسې او وسلې له کومه کېدې؟

ـ اوس ولې نه‌شته؟

هغه وخت بايد د ببوزله افغان کډوالو بچيان د قربانۍ ګډوري شوي وای، بايد په يوه خېټه ډوډۍ او کومه جوړه جامو دې ته چمتو شوي وای، چې په ځانونو پوري بمونه وتړي.

هغه مهال يې نړيوالو استخباراتو ځوکيداري کوله، خو اوس...

اوس نو لوبه بدله شوې او نوي اسباب، نوي افکار او نوي قربانيان غواړي.

وبه ليدل شي، چې دا نوي اسباب و قربانيان به څه او څوک وي؟

د مدرسو استخباراتي طلسم ولې مات شو؟

ولي خبره دې ته راورسېده، چې د چندو ټولولو ته دې دروغجن خوبونه وليدل شي او په پاک رسول (ص) پسې دې هم درواغ وويل شي؟

ځکه د سيمې خلک هوښيار شول، يا غوره ده ووايو، لويه برخه خلک راويښ او روښانه شول. خلکو په استخباراتي مدرسو کې د (ترينينګ) شيخانو د بدلمنيو ويډيو ګانې وليدې. خلکو د دوی د درواغجنو خوبونو او خرافاتي ويناوو ويډيوګانو ته وخندل او مسخره يې کړې، خلک پوه شول، چې د دوی له معصومو ماشومانو سره څه کيږي؟
د معلوماتي تکنولوژۍ پراخېدا او شل کاله ښوونې و روزنې، ښوونځيو، پوهنځيو په تېره بيا د ښځمنو زدکړو ګڼې کورنۍ روښانه کړې، نور نو د دين له ادرسه سياسي تجارت خلکو ته د منلو نه و.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ

خلک ایله پوه شول، چي اوبه له سرچینو (استخباراتي مدرسو) څخه خړې، خوسا او بوینې دي. خلک د استخباراتي مدرسو په ماهیت او هویت پوه شول.

زبرځواکونو دا درک کړه او له مدرسو یې لمن ورټوله کړه.

خامخا به پر نویو اسبابو او قربانیانو فکر شوی وي، خامخا به نوي بلهاریان په نویو نومونو د زبرځواکونو د ګټو لپاره د قربانۍ ډګرونو ته روزل کیږي، خو هغه څه چي موږ ښایي پرې تم شو، هماغه ستاسو بیا بیا راغبرګېدونکي پوښتنه ده، چي موږ څه وکړو؟

ځواب روښانه دی:

مخکي مو وویل:

د استخباراتي مدرسو عمر د خلکو ویښتیا او روښانتیا پای ته ورساوه [یا به یې ورسوي]

هغه څه، چي زموږ له وسه پوره دي:

همدا ویښتیا او روښانتیا ده.

په هره وسیله، چي کیږي باید خلک د دوښمنو په لوبو خبر کړو، روښانه یې کړو او په داسي ملي فکري محورونو یې راټول کړو، چي بیا نه د لویې لوبې قربانیان شي او نه د نویو سیالیو د تنور خس و خاشاک!

ولس باید خپله ملي اراده ومومي. ملي اراده د بشپړ اکثریت افغانانو ګډ تفکر او ملي احساس راپنځولای شي. که په دې لاره کي یو یو ګام واخلو، والله چي خپل هېواد و ولس ژغورلای شو.

**ویښتیا، روښانتیا اوبدلون!**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ